# کله چې رمضان راشي نو د جنت دروازې پرانیستل شي، د دوزخ دروازې بندې شي او شیطانان په زنځیرونو وتړل شي

له ابو هُريرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «کله چې رمضان راشي نو د جنت دروازې پرانیستل شي، د دوزخ دروازې بندې شي او شیطانان په زنځیرونو وتړل شي».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

پیغمبر صلى الله عليه وسلم خبر ورکړی چې کله رمضان راشي نو درې کارونه کېږي: لومړی: د جنت دروازې پرانیستل کېږي او هېڅ یوه یې بنده نه پاتې کېږي. دویم: د دوزخ دروازې تړل کېږي چې هېڅ دروازه یې خلاصه نه پاتې کېږي. درېیم: شیطانان او سرکشه پیریان په زنځیرونو تړل کېږي، نو نشي کولای هغه کارونه تر سره کړي چې دوی به له رمضان پرته په نورو میاشتو کې کول. دا ټول د دې میاشتې د درناوي او تعظیم په خاطر کېږي، ترڅو خلک په دې میاشت کې د عباداتو لکه لمونځ، صدقې، ذکر، د قرآن تلاوت او نورو صالحو اعمالو ترسره کولو ته وهڅول شي او له ګناهونو او معصیتونو څخه ځان وساتي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10107